مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبداو هاب باور
۲۰۲۳/۰۸/۰۳

# اوس خو لړ ځير شه چې دي

## چا لپار جنګ کړی دی!

د جنګ ګټونکي د مغول او يهودي بچيان دي!
دا چې ولاړ دي د شهيد او د غـازي بچيان دي!

کر د ځوانانو مـو قبرونو کې ايمان کړی دی!
اوس فکر وکړئ چې چا ګټه چا تاوان کـړی دی!؟

مړي يو کـور تـه د مغلوب او د غالب راغلي
دوه جسدونـه د عسکر او د ت ا لب راغلي

سويه انګاره تا جنون کړی ؛ کـه ننګ کـړی دی!؟
اوس خو لړ ځير شه چې دې چا لپار جنګ کړی دی!؟

اوس دې ماشوم ته کراماتو نه ښلی جوړه کړه
ورته له خپلي اتلوالي نـه دوډی جـوړه کـړه

او تا ته هم وايمه ای د جمهوريت اتـلـه!
د ځان بنودني او د غلا و د شهوت اتله!

ای پـه پيسـو او روابطو د مـدال ګټونکيـه!
اوس دې ماشوم تـه ورکـوی شي قناعت اتله!؟

قـام غـولـوي بـاوره! دواړه جنتونه غواړي
دوی خو بس تش غاړه په غاړه جنتونه غواړي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ